

چمتو کوونکي: د ګوندي روزنې کمېټه

۱۵ عقرب ۱۴۰۵

د لوی او بخښونکي خدای ﷻ په نامه

طالبان او پښتون ـ افغان نشنليزم

د طالبانو په اړه دا ناسم روايت چې ګڼې دا يوه پښتنه مذهبي، ملتپاله او ازادي بښوونکې ډله ده، له کومه شو؟ سرچينه يې چېرته ده چې په غربي، سيمه ييزو او د بهرنيو په تمويل چليدونکو افغاني مطبوعاتو کې په پراخه کچه تبليغېږي؟ حتا خپله د طالبانو د کابل اداري مهم چارواکي او مطبوعات هم د خپلې تېرې دورې خلاف دا ځل د ملي ګرايۍ يا ملتپالنې ادبياتو څخه ډېره استفاده کوي. کله چې په دومره پراخه او لويه کچه طالبانو ته د پښتنو او د پښتون ملتپالنې د استازو په سترګه کتل کېږي، بيا د تعجب خبره نده چې د افغانستان د غير پښتنو قومونو نخبه ګان د طالب په نوم دغه کوچنۍ افراطي ډله د ټول پښتون قوم د استازو په توګه مخاطبوي او د دوی ټولې کړنې پښتنو ته منسوبوي. دغه تبليغات دومره تکرار شوي او تکراريږي چې حتا ځينې لوستي پښتانه يې چې د پښتنو تاريخ، فرهنګ او ټولنې څخه څه نا څه شناخت لري، هم په خپلې پوهې شکمن کړي دي. آيا د طالبانو د ملي ګرايۍ شعارونه رښتيني دي او که غولوونکي تاکتيکي دي؟ که تاکتيکي او غولوونکي وي، استعماري ځواکونو دا شعارونه ولې د يوې پروژې په بڼه ډيزاين او د طالبانو په خوله کې ورکړل چې تر ننه يې نه يوازې طالبان، بلکې د دوی نړيوال حاميان هم تکراروي؟ د نړيوالو موخه له دې څخه څه ده؟

تر هرڅه د مخه لومړی بايد د طالبانو ايډيولوژيک او تيوريک اساس ته تم شو چې پوه شو نشنليزم يا ملتپالنې سره څومره واټن لري.

کله چې طالبان په نويمو کلونو کې واک ته ورسېدل د ملي، وطن، ملت، بشردوستۍ، ژبې او قوم په څېر مفاهيم يې غندل او دا يې د شريعت خلاف او حتا ډېرو علماوو له دغه ارزښتونو سره مينه شرک او په نهايت کې کفر ګڼل. طالبان د مجاهدينو له ليکو څخه راپورته شوي يوه ډله وه چې د افغانستان د چپي نظام پر وړاندې په سيمه کې د امريکا د پراخو استخباراتي پانګونو په پايله کې يې سر راپورته کړ. کورنۍ جګړې پای ته رسېدلې وه او مجاهدينو د امريکا و پاکستان په فرمايش کابل کې نظام ړنګ کړی و. دا هغه تاريخي مرحله وه چې طالبان پکې د پاکستاني استخباراتو په مرسته واک ته رسېدو کې بريالي شول. طالبانو حکومت ونيو او مجاهدين له صحنې وويستل شول. سره له دې چې طالبانو له مجاهدينو سره په ايډيولوژيک ډګر کې کوم توپير نه درلود، د دوی تر منځ جګړه د واک پر سر وه. طالبانو يو دکتاتور نظام رامنځته کړ او يو نوی تياره دور پيل شو. که تاسې د طالبانو د دې تياره دورې درسي نصاب وګورئ، هلته يې له درسي سيستم څخه د افغانستان ټول تاريخي مفاخر حذف او د نن په پرتله يې هغه وخت د ټولو ملي ارزښتونو په ضد قوي اقدامات کول. د امارت په تېره دوره کې «ملي» د دوی په منځ کې يوه تر ټولو منفوره کلمه وه او ډېر افغانان يې د ملي ګرايي په تور شکنجه او له منځه يوړل. دا دوی ته له مجاهدينو څخه هغه پاتې ايډيولوژيک ميراث و چې دوی دوام ورکړ. د تېرو مجاهدينو په څېر د ديني حکومت ټول پلويان ملتپالنه د تعصب په معنا تعبيروي او بيا يې د حراموالي د اثبات لپاره دلايل تراشي.

همدارنګه په ملي ګرايي کې د ملت د پيوند کېدلو عناصر هم مادي او هم معنوی دي خو د دينی حکومت نظريه کې اصلا د ملت

مفهوم محکوم دی او د انسانانو د پیوندېدو عنصر صرف معنوي دی، واکمنان پکې د خلکو په ځای ځانونه یوازې خدای ته ځواب ویونکي او د خدای استازي بولي. دا یوه داسې ادعا ده چې د اثبات لپاره یې هیڅ مادي ثبوت نه وړاندې کوي او پر وچ زور او اطاعت ولاړه ده.

په ملتپالنې کې د ځانګړې سېمې یا جغرافیې ـ ملت دولت د وګړو سیاسي او کلتوري هویت او منافع سره ټړل کېږي خو د ديني حکومت نظریه په ځانګړې سېمې پورې نه منحصریږي، ځکه خو د طالبانو مشر ځان امیرالمومنین یا د ټولې نړۍ د مسلمانانو امیر بولي. دا نظریه د ملت ـ دولت په اوسنیو موډرنو جوړښتونو کې د تطبیق وړ نده او نه دا تناقض حلېدای شي.

د طالبانو پخوانی مشر ملا عمر او اوسنی مشر ملا هیبت الله، د وزیرانو رئیس یې ملا حسن، ستر قاضي یې شیخ حکیم، د امربالمعروف مشر شیخ حنفي، شیخ دین محمد او ... ټولو په ځلونو ویلي چې د دوی د جهاد هدف په دې دنیا انسان ته خیر رسول ندي. دوی په ځلونو ویلي چې د بشر لپاره سوکالي، خوشالي، یا اقتصادي ترقي او د خلکو د خیټو مړول یې هدف ندی او په وینا یې دا خبرې عقیده کمزوري کوي او باید ور ځخه ډ ډه وشي.

د ملا محمد حسن هغه تاریخي وینا د ټولو افغانانو په غوږونو کې انګازې کوي چې د دوی د مشکلاتو تر اورېدو وروسته یې له دوی په قهر پوښتلي ول چې "چیشي غواړئ؟". طالبان کومه داسې موډرنه ډله نده چې په دولت-ملت دې باور ولري او د دوی تر منځ انساني او ټولنیز قرارداد دې د موډرنو انساني اصولو له مخې رامنځته کړي. ديني افراطي ډلو ته ولس رعیت دی او رعیت د ديني طبقې له خاموش اطاعت نه پرته د وجود د اظهار حق نلري. همدا د دوی اصلي تیوري ده چې د کندهار په محور راټول طالب مشران او شیخان یې په اساس ور ځخه د حاکمیت او د ولس د کنټرول لپاره پالیسۍ جوړوي.

د ملي ارزښتونو د مسخه کولو په لړ کې دوی خپله تېره دوره کې د هېواد د ټولو پخوانیو مشرانو سپکاوی خپل سرخط وګرځاوه، د معاصر افغانستان د بنسټ ایښودونکو، احمدشاه بابا، میرویس نیکه او امان الله خان ته یې سپکې سپورې وویلی، د هېواد ملي ارزښتونه او تاریخي اثار یې ویجاړ کړل. افغان ملي فرهنګ او هنرونو سره یې دښمني وکړه. په کوزه او بره پښتونخوا کې یې په زرګونو تاثیر ګذاره قومي مشران، ملي شخصیتونه او لوستي پښتانه په خورا بې دردۍ ووژل. دا کړنې ټولې د دولت ملت او ملتپالنې د نظریې ضد دي. خو دا چې دوی اوس ځنګه او ولې په تاکتیکي ډول ملي ګرایي ته مخه کړې ده یا دغه تاثر عام شوی دی، دوه ستر علتونه لري. د بهرنیانو لخوا وربانديې تپل شوې ملتپالنه او بله یې د مجبورې ورځې ملتپالنه ده.

د سترو قدرتونو لخوا د طالبانو لپاره ډیزاین شوې ملتپالنه:

طالبانو ته د یو ملي ازادي ښونکي پښتون جریان ویل اوږده مخینه لري. د هېوادونو په مشرانو کې لومړنی کس د پاکستان پخوانی دیکتاتور مشرف و چې طالبان یې د پښتنو استازي وبلل. عمران خان د ۲۰۲۱ کال په سپټمبر کې د ملګرو ملتونو سرمشریزې ته د وینا پر مهال وویل چې د قبایلي سیمو اوسېدونکي د "پښتون ملتپالنې" پر اساس له افغان طالبانو سره "خواخوږي" لري.

خندوونکې وه چې عمران خان هغه خلک د طالبانو خواخوږي وګڼل چې د طالبانو پر ضد یې د پښتونژغورنې په څېر یو پراخه مدني غورځنګ پیل کړ. له ۲۰۱۸ کاله راهیسې په لر بر افغانستان کې لسګونو میلونو پښتنو یې ملاتړ وکړ او د پاکستاني پوځ او

نړیوالو زبرځواکونو د افراطي پروژو لکه طالبانو پر ضد يې شعارونه ورکړل. خو عمران خان دا څرګندونه د يوه پراخه استخباراتي ستراټژۍ له مخې کوله چې نه يوازې دی، بلکې ډېر انګريزو او امريکايي افغانستان پېژندونکو نړيوالو رسنيو سره په مرکو کې له کلونو راهيسې د دغه روايت د عاملو هڅه کوي.

پدې لړ کې هغې امريکايي ډلې چې طالبانو سره يې له تېرو پنځلس کالو راهيسې د مذاکراتو دنده درلوده او غوښتل يې طالبان دې ته چمتو کړي چې د يوې معاملې په نتيجه کې واک ته راشي او بيا د دوی په ملاتړ د اوږده مهال لپاره په واک کې پاتې شي، دوه مهم کارونه وکړل.

لومړی يې د طالبانو د قطر ډلې ته چې اوس د کابلي طالبانو په نوم مشهور دي، په دوحه کې روزنيز پروګرامونه ونيول. تر څو د دې نوې ستراټژۍ له مخې يې واک ته چمتو کړي. په دې لړ کې په ۲۰۱۸کال کې د امريکا لخوا يو جرمني نهاد برګوف فونډيشن (Berghof Foundation)ته دنده وسپارل شوه چې په دوحه کې له ګوانتامو څخه را خلاصو شويو طالبانو او د دوی د سياسي دفتر غړو او مشرانو ته د ستراټژيکو ارتباطاتو او ديپلوماسۍ په برخه کې د ظرفيت لوړنې روزنيز پروګرامونه پيل کړي. د دوی له نظره، طالبان په نړۍ کې د پان اسلاميستانو په توګه پېژندل کېږي. داسې ګڼل کېږي چې دوی د اسلامي نړيوالې واکمنۍ لپاره جنګېږي. مشر يې ځان د ټولې نړۍ اميرالمومنين بولي او د نړۍ د ټولو مسلمانانو د مشرۍ ادعا او د نړۍ ټولو اسلامي تروريستي ډلې سره خواخوږي لري. د سترو قدرتونو تصميم دا و چې نور يې بايد دا شناخت او د امکان تر حده نقش ور بدل کړي. د دې لپاره يو شرط دا و چې طالبان بايد په ښکاره اعلان وکړي چې خپل فکر نورې نړۍ ته نه صادروي، بهرنۍ تګلاره يې په عدم مداخلې ولاړه ده او يوازې د افغانستان د ازادۍ لپاره جنګېږي. دې سره دوی ته د ملتپالنې لقب د نړيوالو استخباراتو لخوا ورکړل شو چې د ملتپال کېدو لپاره يې بايد نور خپله ژبه او ديپلوماسي هم بدله کړې وای. په تېره اروپايانو ته چې نسبت نورو ته د بشر د حقونو په اړه ځانونه حساس ښيي، ښکاره کړي چې په خپل تاريخ او وطن مين خلک دي او بهرنيان چې له دوی کوم ډار لري هغه کم شي. غرب کې هم عامه ذهنيت بدل شي او په دې توګه امريکا ته اسانه شي چې له دوی سره معامله وکړي.

د دغو روزنيزو ورکشاپونو وروسته د قطري طالبانو په ادبياتو کې تغيير راغی او له هغې وروسته تر اوسه پورې کابل ميشتې طالبان د امت په ځای د ملت، د امت اتل په ځای د ملي اتل، ملي اردو، ملي ګټې په ځير ادبيات کاروي. او بهرنيانو سره په ناستو او نړيوالو چارو پورې اړوند اعلاميو کې په تکرار سره وايي چې مور د نورو په چارو کې د لاس وهنې نيت نلرو او زمور کار يوازې له افغانستان سره دی. همدا خبرې يې غربي رسنۍ په غټو سرخطو د خپلو خلکو لپاره خپروي چې وښيي طالبان کومه بين المللي اجنډا نلري او د يوې ملتپالې ازادي ښوونکې ډلې په توګه يې ټول تمرکز په افغانستان دی او نور ور څخه نړۍ ته کوم خطر نشته. همدا دليل دی چې په فلسطين کې د اسراييلو د روانې جګړې په اړوند هم ډېر څه نه وايي او يو راز خاموشي خپره ده.

د نويو شرايطو او مجبوريتو په اساس د طالبانو ملتپالنه:

د طالبانو د ځينو محدودو چارواکو له خوا د ملتپالنې د ادبياتو کارول د د دوی نوي نقش او شرايطو پر مهال يو مجبوريت هم دی. طالبان پخوا په جنګ کې ول اوس واکمن دي. د جنګ پر مهال يې واک ته د رسېدو لپاره ديني او اسلامي ادبياتو ته اړتيا درلوده او له اسلام څخه يې د يوې وسيلې په توګه استفاده وکړه او د لسګونو زره بې ګناه افغانانو وينې يې توی کړې.

پخوا د پاکستان تر مستقيمې روزنې لاندې ول. جنګ ته په چمتوالي او د پاکستان په روغتونونو کې د خپلو ټپيانو په وړيا درملنې

بوخت ول. هغه وخت ور څخه د پاکستان غوښتنه دا وه چې افغانانو ته زیات نه زیاتې مرګ ژوبله واړوي او د انفجارونو له لارې زیات وحشت خپور کړي. خو اوس طالبان په واک او ارګ کې دي. اوس د یو بادار په توګه د پاکستان غوښتنې هم بدلې شوې دي. ځکه اوس له دوی څخه د افغانستان د مشرانو په توګه غوښتنې لري او طبیعي ده چې که هر څومره پاکستان سره نږدې وي، بیا هم د پاکستان ځینې غوښتنې نشي منلی یا یې ظرفیت نلري. نو په داسې مواردو کې یې کله ناکله د پخوانیو بهرنیو متحدینو سره جنجال او شخړه راځي، د دې لپاره چې په دغسې شخړو کې په اسلامي شعارونو ولس له ځان پسې نشي درولی دوی په ملي شعارونو پسې ځي.

ددې لپاره چې پاکستان سره خپله ستراتیژیکه اړیکه کمرنګه وښیي د پاکستان غوښتنو ته ظاهر منفي ځواب وایي او آن خپلو ګومارل شویو کسانو ته دنده ورکوي چې په رسنیو کې د پاکستان ضد نارې – سورې ګرمې وساتي تر څو له یوې خوا ځان ظاهرا له پاکستانه بېل او پنجاب ضد وښیي او له بله پلوه د عامو افغانانو پام له سترو او حیاتي موضوعاتو لکه داخلي مشروعیت، فقر، راکد اقتصادي حالت او نورو څخه په دغو بازاري او رسنیزو شعارونو بل لور ته واړوي.

خو ولس پوهېږي چې دوی تمثیل کوي او دروغ وایيي مثلا ستانکزی د دیورنډ د نه منلو خبرې کوي خو هېڅ طالب حاضر ندی چې د فیض حمید د چایو د پیالې ځواب ووایي. ولس ته د طالب واقعیت د سیرینا هوټل په قضیه کې ثابتېږي نه د ستانکزي په وینا کې.

طالبان هم پدې پوهېږي چې دیني مشروعیت یې امریکا سره د دوحې قرارداد پر مهال ختم شوی دی. نو په هېواد کې د پرګنو او ولسي مشروعیت د ترلاسه کولو او د خپل قدرت د دوام لپاره هم باید وښودل شي چې دوی اوس هغه افراطي ډله نده او نړیوال تروریزم باندې باور نلري او پدې توګه د ساده وطن پرست افغانانو په زړونو کې ځای پیدا کوي.

سره له دې چې دا ځل یې هم افغان ډموکراټ ملتپال حذف، شکنجه او تهدید کړل، خو په ورته وخت کې دا ځل ټولنې د پخوا په پرتله ډېره بدله شوې ده. اوس په میلونونو افغانان د ملي ګټو، ملي ارزښتونو، ملي ویاړونو او ملي ځلو په اړه ښکاره غږ پورته کوي. د طالبانو په ټولنه کې دغه بدلون ته پام دی، ځکه خو اکثره ملي مفاهیمو سره دا ځل په احتیاط چلند کوي. دوی مجبور دي چې دا ځل د وطنپرستی، ملي ګرایي تر شعارونو لاندې خپله اصلي څېره پټه کړي، کټ مټ لکه پخوانیو مجاهدینو چې د فتحې او قدرت ته د راتلو وروسته ځانونه په قومي نشنلستانو او قومي ټیکه دارانو بدل کړل. خو ماهیت یې هماغه مجاهد پاتې شو.

د طالبانو د ماهیت په اړه ټول ولس پوهېږي چې څوک دي، مشرانو یې چېرته زدکړې کړي او تېرو شلو کلونو کې د پاکستان کومو ښارونو کې اوسېدل، خو د دوی مشران د خپلو زدکړو، پاکستان کې د خپل ژوند په اړه ډېر کم غږیږي. ملا یعقوب طلوع سره مرکه کې دا خبره پټه کړه چې پلار یې کراچۍ روغتون کې بستر و، او دی په کراچۍ کې را لوی شو او هلته یې مدرسه وویله او بیا کوټه کې اوسېده.

سیمه، نړۍ او ټول وطنپال او ملي ګرا افغانان طالبانو اصلیت او ماهیت پېژني خو دغه افغانان غږ نلري او په تبلغاتي جنګ کې طالبان مخکې دي پدې دي چې ترشا یې غربۍ رسنۍ دي. د روسیې له ولسمشر نه په وروستۍ مشهوره مرکه کې پوښتنه وشوه چې که ته د امریکا په ضد دومره شواهد لرې ولې ور څخه تبلغاتي استفاده نه کوې، هغه وویل، امریکا ته په تبلیغاتي جنګ کې ماته ورکول

خورا سخت کار دی، ځکه هغوی د نړۍ او اروپا ټولې رسنۍ کنټرولوي.

د افغانستان رښتینو وطنپالو او ملتپالو ته به هم سخته وي چې په تبلیغاتی ډګر کې طالبانو ته ماته ورکړي، خو ددې په ځای کولای شي خپله انرژي په خپل منځي انسجام، یو بل سره د معلوماتو په شریکولو او د خلکو په پوهولو ولګوي او د دې استبدادي نیابتي ډلې په ماهیت زیات نه زیات ولس اګاه کړي چې دا نه د پښتنو استازي دي، نه ملتپال دي او نه وطنپال، بلکې د مخدره موادو د قاچاقیانو، په پاکستاني مدرسو کې د روزل شویو له خپل فرهنګ او ملي ګټو د بې خبره جاهلانو یو ډله ده چې د نړۍ زبرځواکونو د خپلو لویو اهدافو لپاره پر افغان ولس مسلط کړي دي.